لیکوال:پوهنمل حاجی محمد نوزادی نیټه ۲۰۱۱-۰۵-۱۷

# د « ژړ خطر» پوتنشیال او د« سپین خطر» واقعیت

( دریمه اخیرنی برخه )

د دویمی برخی سره په تړاو کی: په لومړی او دویمه برخو کی دچین لخوا د را پیښیدونکی خطر ډولونه او بیلابیلو هیوادونو د همدغه خطر ځانګړتیاوی چی په لودیز، امریکا او روسیی کی سیاسی او اقتصادی څیړونکی ورڅخه سر ټکوی، په بشپړ ډول ورته یادوونه وشوه. پدغه دریمه برخه کی د لوړو یادوونو په اړوند یوه اجمالی پایله اخیستنه ترسره شویده :

دا ډول تورونه د یوشمیر امریکایی، اروپایی او روسی څیړونکو لخوا خورا زیات پرچین باندی لګول کیږی. پدی کی هیڅ شک نشته چی دچین بیساری چټکه اقتصادی وده د نومړو هیوادو په زیان ده ، خوچین دبل هرهیواد پشان حق لری تر ټولو دمخه خپلی ملی ګټی په پام کی ونیسی. که خپل هیواد افغانستان په نظر کی ونیسو، موږ ته داګړی ترچین لا زیات ایران او پاکستان ډیرمضر دی داځکه چی صنعت یی تر موږ پیاوړی دی او زموږ د صنایعو په وروسته پاتی والی باندی بد اغیز ښندی. راشي چی پدی اړوند نړۍ په نظر کی ونیسو. د یوه اقتصادی زبر ځواک په توګه چین په وروستیو شلو کلونو کی میدان ته راوتلي دی. لدی وړاندی چی امریکا او لودیز مخکښه اقتصادی رول درلود، ایا د نړۍ کوم اولسونه د دوی د فشار څخه په امان پاته وه؟ او د چا سره یی خپله شتمنی ویشلی وه؟ ایا د دوو ورانونکو نړیوالو جګړو انګیزه د اقتصادی برلاسیو موضوع نه وه چی دسپین نژادو لخوارامنځته، د نړۍ په لسګونو میلیون وګړی یی د مرګ کندی ته وغورځول او ټول اقتصادی بنسټونه یی دخاورو سره خاوری کړل؟ ایا امریکا او لودیز په منځنی ختیز کی دتیلو ستر کانونه دځان د پاره د پوتنشیالی زیرمو په توګه ندی ساتلی؟ او ایا د همدغو زیرمو د ساتلو په موخه یی اسرائیل هلته د ژاندارم په توګه ندی ټاکلی؟ او داسی سل نور ایا ایا ډیر شته چی باید یاد شی.

که د چین د نظامی خطر او تهدید خبره راواخلو کوم چی روسی اولویډیزوال څیړونکی یی په ځانګړی ډول دچین د ګاونډیانو په اړوند یادوونه کوی، نو داسی نور ډیر هیوادونه هم شته چی د خپلو ګاونډیانو سره سرحدی دعوی لری او پکار ده دسوله ایز حل لاره ورته ومونډل شی. ترټولو دمخه کولای شو د پاکستان او افغانستان ترمنځ د ډیورنډ کرغیرنه کرښه یاده کړو چی د ټولو نړیوالو نورمونو په خلاف پر افغانانو باندی د برچی په زور تحمیل او تپل شویده. د نړیوالو حقوقو ساتونکی لا څه کوی چی ان کارپوهان یی لا هم یادوونه نه ورڅخه کوی، نو که افغانستان ته خدای دومره زور او توان ورکړی چی د حل غوښتنه یی وکړی، بیا نو ددی کار ګناه څه ده؟ همدارنګه د تزاری روسیی لخوا د افغانستان څخه د پنجده لاندی کول یوه له د غه ډول موضوعګانوڅخه یادوولای شو چی د سوله ایز حل د پاره یی هلی ځلی کول څه غټه ګناه نده .

د نړۍ په کچه امریکا دخپل هیواد نه بهر نژدی ۱۰۰۰ پوځی اډی لری ( د بروس ریچاردسن په اند د امریکا د پوځی اډو شمیر په ۱۳۰ هیوادونو کی ۷۳۷ ته رسیږی . په افغان – جرمن انلاین کی د رحمت اریا ارشیف وګوری) چی دا په حقیقت کی دسیمی یوشمیرهیوادونو ته یو ډول نظامی ګواښ ګڼل کیدلای شی. دغو اډو دجنوبی قطب پرته پر ټوله ځمکه باندی سیوری اچولی دی.

دا شی چی دا ګړیَ د یوه واقعی « **سپین خطر**» په توګه لمس کیږی نو ښه به دا وی چی لومړی د دغه خطر د مخنیوی د لارو چارو په لټه کی شو اوبیا دچین لخوا د « **ژړ خطر** » احتمالی پوتنشیال ته پام واړوو چی همدارنګه یی دهیرولو وړ نه بولم.

د بشر دحقوقو خبره یوه بله موضوع ده چی پرچین باندی یی تور لګوی. زه دامنم د بشر حقوق که د هر چا لخوا تر پښو لاندی شی، دا یو نه بخښونکی جنایت دی چی باید ترعدلی تعقیب لاندی راشی. خو زما په اند که دی خبری ته په نړیواله کچه پام واړوو، چین به د امریکا، روسیی او لودیز په پرتله د فرشتی پشان سپیڅلی راووځی. دومره وحشانه جنایتونه چی د بشر د حقوقو د تر پښو لاندی کولو په اړه یی امریکایی ائتلاف یوازی په افغانستان او عراق کی هره ورځ ان د ډله ایزو وژنو تر کچې پوری تر سره کوی، چین به ښایی په خپل تاریخ کی هم د نورو او لسونو په اړوند نه وی کړی. دا هم باید له یاده و نه ایستل شی چی د چین په کور د ننه کی دیو شمیر او لسونو حقوقو ته پوره پاملرنه نه کیږی، خو د بشر د حقونو څخه دا ډول تیری په روسیی او امریکا کی هم په پراخه پیمانه تر سترګو کیږی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د یادوونی وړ بولم چی د لوړو ټکو په اړوند زما موخه تر لویه بریده د یاد شوو هیوادونو هغه کړه وړه ده چی دا مهال یی په خپلو هیوادونو یا دهغه نه بهر ترسره کوی. البته د بشر د حقونو څخه هغه سر رغړونی چی په تاریخی کچه د بیلګی په توګه د چین دکلتوری انقلاب پروخت، په تزاری روسی امپراتورۍ او بیا په شوروی اتحاد کی د اکتوبر ترانقلاب وروسته د ستالین د زورورو مټانو نه دیو شمیر فرصت طلبو کسانو لکه د وخت د استخباراتو مسئول – بیری او نورو لخوا د وطن د دښمنانو د ځپلو تر نامه لاندی تر سره شوی او یا په امریکا کی پرتور پوستو اوسیدونکو او نورو کډوالو باندی وحشانه توپیریز تجاوزونه او همدارنګه دبرتانیی او نورو استعمارګرانو لخوا پراشغال شوو ولسونو باندی تر سره شویدی، دا د تاریخ پرلمن داسی تور داغونه پاته دی چی په هیڅ ډول سترګی ورڅخه پټیدلای نشی.

لنډه داچی خطر که دهرچا لخوا نه وی، خطر یوه ناوړه او د نه منلو وړ پدیده ده چی باید نه یوازی وغندل شی بلکه باید په نړیواله کچه یی مخنیوۍ وشی مګر باید لومړۍ واقعی موجود خطر ته پام واړول شی چی داګړۍ دامریکا او ائتلاف لخوا «**سپین خطر** » **دی** او وروسته بیا د « **ژړ خطر** » پوتنشیال په نظر کی ونیول شی چی دچین لخوا یی احتمال په را څرګندیدو دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ